طلوع افغان

مؤسس: مولوي صالح محمد "هوتک"

د امتیاز څښتن: کندهار اطلاعاتو او فرهنګ ریاست

په اوونۍ کې دوه واره چاپېږي

د تأسیس کال: ۱۳۰۰ لمریز، شنبه ۴/جمادی الاول/ ۱۴۴۵ هـ ق، ۲۷/لړم/ ۱۴۰۲ ل کال - ګڼه (۶۰)

Saturday-18-November-2023 Issue 60

نبوي مرغلري

رسول الله (ص) فرمايلي دي:

ژباړه: الله (ج) فرمایلي دي، خپلو نېکو بندګانو له پاره مي داسي څه تيار کړي دي، چي نه سترګو ليدلي، نه غوږونو اورېدلي او نه په کوم زړه کي ګرځېدلي دي.

«رواه البخاري»

ملا خير الله خيرخواه له کندهار والي سره پر يو شمېر اړينو موضوعاتو خبري وکړې

د اطلاعات او فرهنګ سرپرست وزير ملا خير الله خيرخواه د کندهار له سرپرست والي ملا شېرين اخند سره د چهارشنبې په ورځ وکتل او پر يو شمېر اړينو او مهمو موضوعاتو يې بحث وکړ.

د اطلاعات او فرهنګ سرپرست وزير خوښي وښووله، چي د افغانستان اسلامي امارت په راتګ سره زرونو بهرنيو سېلانيانو د هيواد د بېلابېلو برخو په ځانګړې توګه کندهار ښخه ليدنه کړې ده.

ملا خير الله خيرخواه د يو شمېر تاريخي آبدو د ترميم په اړه هم معلومات شريک کړل، چي په خبره يې د حاجي ميرويس خان نيکه د مقبرې او احمدشاه بابا کور او مقبرې د ترميم کارونه په ښه ډول روان دي.

د کندهار سرپرست والي د اطلاعات او فرهنګ وزارت د کارونو ستاينه وکړه او زياته يې کړه، ځوانانو ته بايد د فکري، ذهني او علمي پوهي په برخه کي لا زيات پروګرامونه ترتيب سي.

کندهار والي د افغان کډوالو له پاره د چارو ښه منظمولو له پاره سپين بولدک ولسوالۍ ته ولاړ

د کندهار سرپرست والي حاجي ملا شېرين اخند د سه شنبې په ورځ د کډوالو له پاره د ټولو خدمتونو او چارو منظمولو له پاره سپين بولدک ولسوالۍ ته ولاړ او هلته يې د کډوالو له پاره د خدمتونو چمتو کولو او اسانتياوو برابرولو په موخه د مرکزي او ولايتي کمېټې له ټولو غړو سره وکتل، چي پرمهال يې د سپين بولدک ولسوال، امنيه قوماندان، کمېسار او دغه راز يو شمېر نورو مسئولينو هم شتون درلودی.

ناسته چي د قرآنکريم د څو مبارکو آيتونو په تلاوت سره پيل سوه، لومړی د ولايتي کمېټې مشر مولوي محمود مظلوم وويل: هره ورځ په زرونه کډوال خپل هيواد ته راستنېږي او الحمدلله د کمېټې ټول غړي يې په پوره همړغۍ شپه او ورځ خدمت کوي او ټول هغه خدمات چي ورته اړتيا ده، تر کډوالو پوري يې رسوي او زياته يې کړه، د تخته پل ولسوالۍ اړوند لنډمهاله کمپ تر ټولو کمپونو غوره دئ او په همدي

۴مخ

له ليکوالانو او ځوانانو سره د همږغۍ ناسته وسوه

ياده غونډه چي د چهارشنبې په ورځ ماښام د کندهار په اطلاعات او فرهنګ رياست کي جوړه سوې وه، د کندهار د والي مرستيال الحاج مولوي حيات الله مبارک ترخنګ، د اطلاعات او فرهنګ رئيس مولوي انعام‌الله سمنګاني، د افغانستان اسلامي امارت د وياند دفتر د رسنيو د برخي مسئول ملا شمس‌الله صميم، د کندهار ولايت مقام وياند مولوي محمود عزام، د دولتي ادارو وياندويانو، يو شمېر نورو مسئولاو، ليکوالانو او ځوانانو برخه اخيستې وه.

غونډه چي د قرآنکريم د څو مبارکو آيتونو په تلاوت کولو پيل سوه

۴مخ

د دوو مهمو سړکونو د وصلولو چاري پيل سوې

په کندهار کي د دوو مهمو سړکونو د نښلولو چاري پيل سوې، چي ۱۶۰۰ کسان به کار په کښي کوي.

کندهار ښاروالي د ښار دوه مهم سړکونه سره نښلوي، چي د دريېمي ناحيې اړوند، د بای پاس عمومي سړک د دارالمعلمين د عمومي سړک سره وصلېږي، چي د چهارشنبې په ورځ يې د کار د پيل پرانيستنه وسوله.

کندهار ښاروال حسن حاجي صاحب ويلي، ياد سړک ۷۸۷ متره اوږدوالی او ۱۳،۶ متره بردوالی لري، چي د ښاروالۍ د ۲۲ ميليونه افغانيو په لګښت به يې کارونه بشپړ سي او په ياده پروژه کي ۱۶۰۰ کسانو ته د کار کولو زمينه برابره سوې ده، چي ۴۰۰ کسان

۴مخ

ځلورو روغتيايي مرکزونو ته ودانۍ جوړي سوې

د هلمند ولايت په نادعلي، دېشو، نوزاد او ناوې ولسواليو کي د ۱۲۷ زره ډالرو په لګښت، ځلورو روغتيايي مرکزونو ته ودانۍ جوړي سوي دي.

د يادو روغتيايي مرکزونو د پرانيستلو پرمهال، د عامي روغتيا وزارت مالي او اداري معين مولوي محمد اسحق صاحبزاده ويلي، عامي روغتيا وزارت د هلمند ولايت ټولو اوسېدونکو ته ځانګړې پاملرنه کوي، ترڅو يې خلکو ته پر وخت روغتيايي خدمتونه وړاندي سي.

ورته مهال د ياد ولايت د عامي روغتيا رئيس ډاکټر سيد احمد سعيد ويلي، هڅه کوو ټولو ليرو پرتو سيمو ته روغتيايي خدمات وغځوي، ترڅو د خلکو روغتيايي ستونزي

۴مخ

متحده عربي امارات يو کادري روغتون جوړوي

متحده عربي امارات په پام کي لري چي په هرات ولايت کي يو کادري روغتون، يو جومات او يو انسټيټيوټ جوړ کړي.

د متحده عربي اماراتو د ټيم مشر ډاکټر سلطان چي له زلزله ځپلو سره د مرستي له پاره په هرات ولايت کي شتون لري، د ياد ولايت له والي مولانا نوراحمد اسلام جار سره په ليدنه کي د يادو سوو تأسيساتو د جوړېدو پخلی وکړ او هم يې د زلزله ځپلو له پاره د کورونو په جوړولو کي د همکارۍ ژمنه وکړله.

د هرات والي د عربي متحده اماراتو د ټيم د همکاريو د قدردانۍ ترڅنګ ډاډ ورکړ چي د هرات ولايت سيمه ييزه اداره له دوی سره هر راز همکارۍ ته چمتو ده.

بايد وويل سي، چي دغي ډلي تر دې وړاندي هم په هرات ولايت کي د اتو ساعتونو په شاوخوا کي يو روغتون جوړ کړی و.

د سپين بولدک ولسوالۍ له لاري زرونه مهاجرين راستانه سوي دي

د کندهار ولايت د سپين بولدک له لاري په تېرو لسو ورځو کي زرونه مهاجرين هيواد ته راستانه سوي دي.

د کندهار د ترانسپورټ رئيس مولوي عبدالغني احسان د کډوالو د لېږد په اړه ويلي، له تېرو ۱۲ ورځو را په دې خوا په ۱۰۲۱ موټرونو کي ۱۰۱۸۱ کورنۍ او کډې چي شمېر يې تر څلوېښتو زرو کسانو اوړي، کندهار او نورو ولايتونو ته انتقال سوي دي.

د يادوني وړ ده، چي هره ورځ په زرونو کسان د تورخم او سپين بولدک ولسوالۍ له لاري خپل هيواد ته راستنېږي.

د يو سربند د رغولو چاري بشپړي سوي دي

د روزګان ولايت په مرکز ترينکوټ کي د کرهڼي، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت په مالي لګښت د ۴ ميليونو ۲۶۰ زره ۱۲ افغانيو په لګښت د سرخوليز کانال د سربند د رغولو چاري بشپړي سوي دي.

د ياد ولايت د کرهڼي، اوبولګولو او مالدارۍ رياست مسئولينو ويلي، ياده پروژه د کرهڼي، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت له لوري د ۴ ميليونو ۲۶۰ زره ۱۲ افغانيو په مالي لګښت رغول سوې ده.

په ورته وخت کي د سيمي اوسېدونکو هم د يادي پروژې

۴مخ

د يو سربند او يو کانال جوړولو کار پيل سو

د فارياب ولايت د کرهڼي، اوبو لګولو او مالدارۍ رياست چارواک ويلي، د دې ولايت په المار ولسوالۍ کي د ۳ ميليونه ۶۰۳ زره ۲۱۲ افغانيو په لګښت د يو کانال او يو سربند د جوړولو چاري پيل سوي دي.

د ياد ولايت د چارواکو په خبره، د دې پروژې په جوړېدلو او د کرهڼيزو اوبو په مديريت سره به د خلکو ستونزي هواري او سوونه جريبه کرهڼيزه مځکه به خړوبه سي.

۴مخ

په کانکرېټي ډول د يو سړک جوړولو چاري دوام لري

د بغلان د ټولګټو چارو رياست له لوري د ۷۲ ميليونو افغانيو په لګښت، د پلخمري - دوشي ولسوالۍ پر لويه لار د بوغابي کوتل د دوه کيلو متره سړک د جوړولو چاري دوام لري.

د بغلان د اقتصاد رئيس عبدالمتين اخندزاده ويلي، د بوغابي کوتل چي ۲۱۷۷ متره اوږدوالی او ۹ متره پلنوالی لري، د ۷۲ ميليونو افغانيو په لګښت يې په کانکرېټي ډول د جوړولو چاري دوام لري.

د هغه په قول، د دې سړک کانکرېټ ۳۵ سانتي متره ژوروالی لري چي د ټولګټو وزارت يې قرارداد له امان الله وطنيار

۴مخ

د ګډو-وډو کارونو سموونکی او زړونو رغوونکی الجبار ذات الله (ج) دئ

شاه محمود "بری"

جبار هغه ذات دئ، چي د خپلو بندګانو بدنونه او زړونه له سره رغوي. الله (ج) تر سيوري لاندي ژوند؛ زموږ د نېکمرغۍ اړوند، د روغتيا مرهمونو او پټيو ته لاره خلاصوي، هغه نامحدود سيوری چي زموږ دردونه رغوي او زموږ له بدنونو څخه غم او اندېښني ليري کوي.

الله (ج) د خپلو بندګانو د بدنونو، زړونو او ژوندانه له ماتي خبر دئ، هغه ډول ماتي چي د هغه نښې پر روح او روان تر ډېره حده پاتېږي. له همدې کبله هغه ذات د بيارغوني مسئوليت په خپله اخيستی او خپل ځان يې جبار (جبرانوونکی، رغوونکی) نومولی دئ، ترڅو بندګانو ته وښيي چي يوازي هغه ذات ستاسي د ژوند ماتي او ګوډي لاري رغولای سي، نو د هغه له پاره سجده وکړئ.

د ژوندانه بې شمېره ماتي او ګوډي:

هغه پېښه چي په هغه کي هډوکي ماتېږي، هغه توهين او سپکاوی چي ستاسو عزت له منځه وړي، هغه بې وزلي چي ستاسو روح يې تر پښو لاندي کړی، هغه ناروغي چي ستاسو وړتيا او پياوړتيا له ځوړ سره مخ کوي، هغه غوټې چي ستاسو ژوندانه ته ورلوېږي او ستاسو هيلي په نه لاسرسي بدلوي، هغه بېره چي ستاسو انګېزه په نطفه کي وژني، هغه بده پېښه چي ستاسو احساسات پر جوش راولي، هغه شرايط چي تاسو سرټيټي کوي، ټول دغه شيان د يو انسان د ژوندانه ماتي او ګوډي دي، چي د دغو ماتو په اندازه د آسمان دروازې د رحمت او ملګرتيا د پانسمان په ډول پرانيستي دي.

ستاسو پالونکی مات زړي ته بيا انګېزه ورکوي او هغه رغوي، د کمزورو ملګری او مرستندوی دئ، د بې وزله او فقير انسان مقام پورته کوي، لوېدلي ته لاس ورکوي، د هغه بې انتها رحمتونه په معنويت سره نفسونه پانسمانوي او هغه بيا رغوي.

يو ملګري مي ويل: زه يو وخت د ام القری پوهنتون زده کړيال وم. يوه ورځ مي د پوهنتون پر لاره يو عمره کوونکی وليدی، چي له ما څخه يې د پوليسو پته غوښتله. ما هغه ته وويل: زه بېړه لرم، ځکه د ادبي نيوکي د درس ټولګی شروع کېدی او راتلونکې اوونۍ د هغه درس آزموينه هم وه. سره له دې مي و نه سوای کولای، چي د هغه له څنګ څخه بې تفاوته تېر سم او سپور مي کړ، ترڅو هغه د هدف ځای ته نژدې کړم. د لاري په منځ کي هغه سړي ماته وويل: درې ورځې مخکي مي په حرم کي بټوه، ټيليفون، پېژندپاڼه او څه چي مي په جېب کي وو، ورک کړي، نه پيسې لرم چي ډوډۍ وخورم او نه د خوب له پاره ځای لرم او نه کولای سم چي له چا سره د ټيليفون له لاري په اړيکه کي سم. ستړی سوم!

د دغي جملې په ويلو سره يې په ژړا پيل وکړ او ادامه يې ورکړه، درې ورځې کېږي چي له خلکو سوال کوم او په کوڅو کي بيده کېږم. هغه په رښتيا زړه ماتی سوی و.

ملګري مي وويل: ما هغه ته تسلی او ډاډ ورکړ او له الله (ج) څخه مي ورته يادونه وکړه او ورته و مي ويل: الله (ج) دا وسايل په حرم کي د دې له پاره نه دي ورک کړي، ترڅو ته له هغه پرته بل چا ته لاس اوږد کړې، يوازي بسنه کوي چي هغه ذات ته سجده وکړې او له هغه يې وغواړې، و به وينې چي هغه به تا ته بيا وګرځوي. بيا مي هغه ۸۳ رياله چي په جېب کي ول، هغه ته ورکړل او هغه په داسي حال کي پلي سو، چي پر شونډو يې مسکا خپره وه.

تر دوو اوونيو وروسته يې د ادبي نيوکي مضمون نمرې اعلان کړې، اصلاً هغه آزموينه چي جوابونه مي يې په سمه توګه نه ول ورکړي او فکر مي کاوه چي زه پاته راځم، خپل ځان مي د بيا چانس درس له پاره چمتو کاوه، خو کله چي مي وليدل هيڅ

۴مخ



د طلوع افغان خبري

چابهار د افغانستان د اقتصاد له پاره څومره اهمیت لري؟

چابهار بندر د ایران هیواد تر ټولو لوی بندر دئ، چې د سیستان او بلوچستان ولایت په جنوب کې موقعیت لري، دغه بندر تر ډېره حده، په ایران د امریکا او نورو غربي هیوادونو له تحریمونو هم خوندي دئ.

د چابهار بندر زموږ د ګران هیواد افغانستان د نیمروز ولایت سره تر ټولو نژدې بندر بلل کېږي.

په ۱۳۹۵ ل کال کې د افغانستان، ایران او هند ترمنځ، د دې بندر د پراختیا او له دغه بندره د درې ګوني ګټې اخیستنې له پاره درې اړخیز موافقه لیک لاسلیک سوی دئ.

تر دې تړون وروسته افغانستان هم دغه بندر ته لاره پیدا کړه او له دې لارې یې د پوره ګټې اخیستنې له پاره د یوې لارې پر جوړېدو کار پیل کړ، یاده لاره چې له نیمروزه تېرېږي، د ۱۴۰ کېلو متره په اندازه کار یې بشپړ سوی او پر پاتې برخو یې کار روان دئ.

افغانستان په وچه کې را ګیر هیواد دئ او دا ورته اړینه ده، چې د خپلې سوداګرۍ د ودې له پاره اوبو ته لاره ولري، افغاني سوداګر تر ډېره حده د کراچي بندر له لارې صادرات او واردات کوي، خو په دې وروستیو کې د پاکستاني حکومت د ناسمو سیاستونو له امله زیات وختونه افغاني سوداګرو ته په یوه او بل نامه مشکلات جوړېږي، همدا اوس په کراچي بندر کې په افغاني توکو بار، سوونه لارۍ بندي ولاړې دي، چې د پاکستاني حکومت له لوري په یوه او بله پلمه پیسې ځني اخیستل کېږي او ځنډول کېږي، نو د چابهار په مرسته به موږ د پاکستاني حکومت له منته ووځو، له ایران هیواد سره سوداګري به لا وغوړېږي، اړیکي به مو ورسره لا قوي سي، د هند له سمندر سره به ونښلېږو او له دغه هیواد سره به مستقیمه سوداګري زېږه راکړه – ورکړه ولرو، افغاني محصولات به په ډېر کم وخت او ارزانه ډول سره تر نورو هیوادونو ورسېږي او هم به د مرکزي آسیا په وچه کې ایسار هیوادونه د افغانستان له لارې د چابهار بندر سره وصل سي، چې دا به د سوداګرۍ په برخه کې د سیمې په کچه د افغانستان ارزښت لا زیات کړي.

اداره

د غرب مکر ښایي د نړۍ په تاریخ کې مثال و نه لري

عبدالحی "قانت"

که افغان ملت د امریکایي اشغال پر ضد مبارزه کوي، تروریزم دئ.
که عراقیان د خپل ملت آزادي غواړي، تروریستان دي، که لیبیایان د امریکایي هېژمانۍ حکم نه مني، تروریستان دي، که روسیه، چین او شمالي کوریا د امریکا زبرځواکۍ ته سر نه کښته کوي، شیطاني مثلث دئ، که فلسطیني آزادپال د خپلې خاورې آزادي غواړي، تروریستان دي، که روسان د خپل امنیت له پاره په شرقي اروپا کې ناټو غځونه نه مني، اشغال دئ، که چین خپله تاریخي سیمه بیرته تر لاسه کول غواړي، اشغال دئ، که افغان اسلامپال مبارزه ګټي، ټولشموله نه دئ، که ترک اسلامپال انتخابات ګټي، دیکتاتور دئ، که یې مصري اسلامپال ګټي، امپراطور دئ، که فلسطیني حرکت انتخابات ګټي، تروریست دئ. یوازې دوی دي چې جګړه یې مشروع ده، د خلکو وژل ورته روا دي، انتخابات (!) یې سم دي، آیډیالوژي یې نړۍ واله ده، مبارزه یې مقدسه ده. که د دوی پر طرف وې، هر وحشت کوه، ژورنالیستان وژنه، د بشر حقوق تر پښو لاندې کوه، آزادي په توپونو وله، بمونه اوروه، ښځې وژنه، کوچنیان قتلوه، هیڅ نسته، خو که د دوی په وړاندې ودرېدلې، په هر دم او قدم د اخلاقو چېټرونه دي. د دوی مکر او درواغجن هویت ښایي د نړۍ په تاریخ کې مثال و نه لري.

تر مړیني مخکې شپږ کړني هرومرو تر سره کول

شاه محمود "بری"

هر ساه کښ به یو وار هرو مرو د مرګ تر خه پیاله څکي، ځکه دا منل سوی حقیقت او د الله تعالی (ج) امر دئ، دا چې مرګ هرو مرو راځي، پټېدل ځني نسته، په دې موږ ټول قانع یو، خو باید دا هېر نه کړو، مخکې تر دې چې مړه سو، لاندې شپږ کارونه تر سره کړو:
۱ – توبه وکاږو او د خپلو تېرو ګناهونو بخښنه له الله تعالی (ج) څخه وغواړو.
۲ –جاري صدقه وکړو؛ لکه: جومات او په عامه لارو کې پل جوړول، څاه کښل او دې ته ورته نور.
۳ – داسې عمل مه کوئ، چې تر مرګ وروسته یې هم عذاب در ورسېږي.
۴ –مرګ ته هر وخت چمتو اوسئ.
۵ –خوابدي خلک خوشحاله کړئ.
۶ –حاصل سوی علم تر نورو پورې ورسوئ.
په پایله ویلای سو چې انسان عاجز مېلمه دئ او په دې نړۍ کې مسافر دئ، هغه مسافر چې یو وار په خپله مخه ولاړ سي، بیا په هیڅ قیمت او د هیچا په سپارښتنه دې نړۍ ته نه سي راتللای، باید د هغه اصلي خوښیو په بدل کې دا فاني نړۍ خوښه نه کړو او اخروي ژوند چې تل پاته دئ، له وړاندې ورته پوره – پوره چمتووالی ونیسو.

لوبې او څو خبرې

مولوي محبوب شاه "ساجد"

– ورزش او تفریح د انساني ژوند ضرورت دئ. رسول الله (ص) د آس ځغلولو، منډې وهلو، غشي ویشتلو او لامبو وهلو ترغیب ورکړی، خو هغه د ښه صحت او جهاد ته د چمتووالي له پاره ترغیب ور کړی دئ. د رقص، نڅا او داسې نورو کارونو له پاره نه.
– ورزش او تفریح چې په خپل حد کې وي، یو بې عقل سړی به یې خلاف وي.
– خو ورزش او تفریح باید د عبادت، جماعت د لمانځه، درسونو د قضا کولو او نورو مهمو لومړیتوبونو خنډ نه سي، که نه احمق توب او لوده ګي ده.
– ورزش او تفریح باید په دنیا یا آخرت کې یو ملموسه ګټه ولري، که نه، د وخت او استعداد ضایع کول دي.
– دا چې یو څوک د اشغال څخه د ښکاره فتحو ورځې نه لمانځي او نه یې هغه تاریخ په یاد وي او نه ورته ارزښت لري، خو یوازې د کوم ورزش د بریا تاریخ یې په یاد وي او لمانځي یې، داسې څوک فکري جګړې ځپلی دئ.
–ورزش او تفریح نه کوم ارزښت دئ، چې د انسان د ایمان او عقیدې برخه وګرځي او نه کوم مقدس کار (البته که ورزش د جهاد چمتووالي په نیت وي، بهتر کار دئ) او نه هم لوبغاړي یوازیني د ژوند الګو او بېلګې دي.

د یهودانو دسیسې

لیکوال: محمد یحیی خان

ژباړه: سمیع الله "درانی"
پنځه ویشتمه برخه

د حکم مطابق خلک راتلل، ډوډۍ یې خوړله، بیر ته تلل، خو هغه شیطان صفته یهودیان نه راغلل، اوس بیا نورالدین پرېشان و، چې څنګه هغه خلک پیدا کړم، د یهودیانو دا معمول و، چې یوه به کولنګ واخیستی، په نغم کې به یې کار کاوه، بل به د نغم خولې ته چوکیداري کوله، خو د دې سره – سره یې عبادت هم کاوه، نورالدین بیا د ښار د منتظم څخه پوښتنه وکړله، چې ټول خلک ډوډۍ ته حاضر سول؟ هغه وویل: پاچا سلامت، هو! ټول ښار راغلی، خو دوه نفره نه راغلل، ځکه هغه همېشه په عبادت او ریاضت مشغول وي، له هیچا سره کار نه لري، نه د چا مېلمستیا ته ورځي، نورالدین وویل: سبحان الله! د داسې خلکو زیارت ته زه خپله ورځم، بیا یې غلامانو ته د خوراک ټوکرۍ پر سر ورکښېښوولې، د هغه طرف ته روان سو، هغه چوکیدار یهودي چې یوه کوچنۍ قافله خپل طرف ته راروانه ولیدله، بیا یې پر خپل ملګري چې په نغم کې یې کار کاوه، رږ وکړ، چې راوخېژه، هله! زموږ خواته خلک راغلل، هغه هم راپورته سو، ژر – ژر یې کوټه سره سمه کړله، نورالدین چې ورغلی، که ګوري هغه شکلونه یې دي، بیا یې د دوی د ترلو امر وکړ، وروسته یې د خونې پلټنه وکړله، په ښکاره خو هیڅ نه معلومېدل، خو د دوی د لمانځه مصلې چې یې پورته کړې، که ګوري د نغم خوله معلومه سوله، دوی هم اقرار وکړ. نورالدین وویل: (سرپ) ویلي کړئ، بیا یې هغه ویلي سوي سرپ په خوله کي ور واچول، دوی یې په داسې سخت مرګ مردار کړل، بیا یې د روضې د حفاظت له پاره اووه ورغه د مسو د پوال وواهه، چې بیا په آینده کې داسې مشکل پېښ نه سي، چې تراوسه سته؛ هغه دېوال داسې خطرناکه دسیسه جوړوله، بې له یهودو بل څوک کېدای سي، د دوی د تنګ نظرۍ له امله دوی په دنیا کې ذلیل دي، مسلمانان چې د دوی څخه څونه نفرت کوي، هغه د هیچا څخه نه دي پټ، خپله عیسویان په تاریخ کې له دوی سره ملګري سوي، څو واره د مسلمانانو په مقابل کې، خو بیا هم نفرت ځني کوي، لکه په مخکې چې مو بحث پر وکړ، په آینده کې به هم رڼا پر واچوو.

یهودیان، عیسویان، مسلمانان:

مسلمانانو چې له اهل کتابو سره څومره د مروت او فیاضي معامله وکړه، خو دغه مذهبو والا په جواب کې داسې سلوک او رویه ور سره وکړه، چې انسانیت په شرمېږي، یهودیان او عیسویان که یوې خواته د آسماني مذهب د پلویت دعوه کوي، خو بلې خواته بیا د دوی سلوک د انسانانو سره ډېر افسوز ناک دئ.

د (صحرانشینو کې تاریخ) مصنف جسټس امیر علي لیکلي دي: "صلیبي جنګونو په تاریخ کې یو خوني باب اضافه کړ، عیسویانو د مسلمانانو خلاف درې سوه کاله مسلسل حملې کولې، خو هر وار ناکامۍ د دوی اعصاب ور فلج کړل او هغه احساس چې دوی یې د مسلمانانو خلاف پر جنګ را پارول، کمزوری سو، د ډېرو جنګو له لاسه د یورپ د جنګ څخه خلک خلاص سول، د دولت خزانې خالي سوې، که دوی مکمل نه دي هلاک سوي، خو ډېوالیتوب د دوی بېخ ور کمزوری کړ، په سوونو زره خلک ښکاره په جنګ کې قتل سول، په سوونو زره خلک د جنګ له امله د لوږې او تندې او ناروغۍ له لاسه مړه سول.

د صلیب پیروانو داسې ظلمونه وکړل، چې انسان یې تصور کولای سي، هغه یې عملي وکړل، خو مسلمانانو د خپل حکومت په دور کې اهل کتاب په هره شعبه کې ثبت کړي ول او دوی ته یې د خپلو مسلمانانو رکم حقوق ورکړي ول.

په ټوله دنیا کې د عیسویانو کلیساوې او مبلغین موجود ول. حضرت عمر فاروق (رض) چې کله پر فلسطین قبضه وکړله، پر هیڅ سېلاني یې پابندي نه ولګوله، که چیرې مسلمانانو فلسطین نه وای فتحه کړی، نو یهودیانو او عیسویانو به په خپل منځ کې سره قتل کړي وای، تر څو چې ختم سوي وای، په بیت المقدس کې د عیسوي اسقف اعظم له پاره مخصوص ځای متعین و.

په ۹۶۹م کال کې چې کله فلسطین د عبیدیانو په قبضه کې راغلی، عیسویانو ته نوري اسانتیاوې حاصلې سوې، عبیدي خلیفه ګانو به خصوصاً د عیسوي تاجرانو او سېلانیانو حفاظت کاوه او هر رکم مرسته به یې ور سره کوله، لېکن د یهودو او نصاراوو په سترګو کې د مسلنانانو وجود ازغی وو، یهودي او عیسوي سېلانیان چې به د یورپ څخه راغلل، د مسلمانانو مېلمستیاوې او ښه سلوک به یې ولیدی، بیا به یې په یورپ کې دا پروپاکند شروع کړ، چې مسلمانان زموږ څخه مرعوبه دي، زموږ د عظمت څخه خبر دي، له دې امله زموږ عزت کوي.

د صلیبي جنګونو په دوران کې چې به کله عیسوي لښکر ته مسلمانان په مخه نه ورغلل، بیا به یې خپلې تېرې توري د یهودیانو په غوښو او هډوکو پڅې کړې، تر دې پورې چې د (کولون) په منطقه کې یې په زرونو یهود دوی قتل کړل او جایدادونه یې لوټ کړل. نور بیا...

خوښونه: شهید شیخ رحیم الله "حقاني"

د شیطان لښکر کتاب

(۵) برخه

د خوارجو نوې څېره (داعش)

حضرت علي (رض) د خوارجو طرف ته عبدالله بن عباس (رض) ولېږی، خو حرقوص بن زهیر د خپل ننني اولاد په څېر خپلو ملګرو ته په بې ادبه ژبه وویل: دا سړی تاسو پېژنئ؟ دا هغه سړی دئ، چې د ده او د قوم په باره کې یې الله (ج) فرمایي: ژباړه: دا یو لانجمن قوم دئ.
سورة الزخرف، ۵۸آیة
په دې توګه یې د ابن عباس (رض) بې عزتي وکړله او وروسته یې حضرت علي کرم الله وجهه ته پیغام ولېږی، چې: ته له خپل کفر څخه توبه وباسه! او خپل کار ته کفر ووایه او دا ووایه چې زه د الله تعالی (ج) له دین څخه اوښتی وم، نو موږ به له تا سره د جنګ پر فیصله بیا غور او فکر وکړو یعني جنګ به نه در سره کوو. (تاریخ الطبراني:۷۴/۵. البدایه و النهایه: ۴۸۳/۷)

خوارجو خپلو ټولو هم نظره او هم فکره خلکو ته پیغام ولېږی، چې د نهروان پر لور هجرت وکړي، ترڅو زموږ قوت او طاقت یو ځای سي، په نهروان کې د رسول الله (ص) صحابي عبدالله بن خباب بن الارت (رض) اوسېدی، خوارجو هغه ته وویل: ته مرتد سوی ئې! ځکه چې ته د حضرت علي (رض) په هغه فیصله چې درېیم ګړی یې مقرر کړي وو، راضي سوی ئې! نو حضرت عبدالله یې په چاړه سره ذبحه کړ. یعني دوی لومړي هغه خلک دي چې د قتل په باب کې یې په چاړه سره ذبحه کول رواج کړل، دا خوارج بیا د هغه ښځې ته ورغلل، هغه یې هم ذبحه کړله او هغه حامله هم وه، له نس څخه یې کوچنی ځني راو ایستی، هغه یې هم په چاړه سره حلال کړ.
(البدایة وانهایة بتصرف: ۴۸۵/۷)
حضرت علي (رض) له دوی سره د جنګ فیصله وکړله، خو تر جنګ وړاندې یې د اتمام حجت له پاره هغوی ته پیغام واستاوه، چې شهیدان موږ ته وسپارئ، نو موږ به وروسته ستا نه سو، خو هغوی جواب ورکړ، چې موږ د هغوی او ستا وینه حلاله ګڼو، موږ ټول د هغه قاتلین یو، که د قصاص مخه وینې، نو راسه قصاص واخله.

حرقوص بن زهیر خپلو ملګرو ته وویل: له دوی سره نوري خبري مه کوئ، له الله (ج) سره د ملاقات له پاره تیاری وکړئ، د جنت پر لوري وځغلئ او د هغو خلکو سرونه له تن څخه جلا کړئ، چې د الله تعالی (ج) دین یې بدل کړی دئ.

(البدایة وانهایة: ۴۸۷/۷)
حضرت ابو ایوب انصاري (رض) هم په دې جنګ کې ګډون کړی و، د امن بیرغ د ده په لاسونو کې و، د جنګ پر مهال یې یو خارجي پر ځګر په نېزه وواهه، هغه چیغه کړه: د هغه جنت پر لور چې پلنوالی یې د مځکې او آسمانونو برابر دئ. ابو ایوب انصاري (رض) ورته وفرمایل: د الله (ج) دښمنه! درواغ دي وویل. د هغه جهنم پر طرف ولاړ سه، چې ستاسو له پاره تیار سوی دئ، په دې جنګ کې د خوارجو ټول شان او شوکت، قوت او طاقت له منځه ولاړی، زیات ووژل سول، ځینو توبه وکښله او ځیني د خپلي فاسدي عقیدې د ماتي له تور داغ سره ماته خوړلې، په بېلابېلو ښارونو کې خواره-واره سول.

نور بیا...

پر ځوانانو د باور مثبته پایله او د نوو هیلو بار

نصیب الله خان

تر نړیوال جام مخکې په یو مجلس کې له حشمته چا پوښتنه وکړه، چې کومې لوبډلې دې ټارګېټ دي؟ د پوښتنې هدف یې دا و، چې کومې کمزورې لوبډلې به ماتوې؟ حشمت ورته وویل: د هرې لوبډلې خلاف به ښه لوبه کوو، دا وار یوازې او یوازې اشتراک ته نه ځو، بلکې لویې لوبډلې به هم ماتوو، دې خبر یې ډېر زیات خوند راکړ، حشمت او ملګرو یې ځان ته هدف لوړ ټاکلی و او تر ډېره په کښې بریالي هم سول.

د ځوانې او بااستعداده لوبډلې د لوبو ننداره مو وکړه. دوه کاله پخوا که لوبډله وګورو، نه مو په اوپنینګ کې ګربز او ابراهیم و او نه په لوبډله کې عظمت، ریاض، عبدالرحمن، نور احمد او فضل الحق ول، خو موږ د یوې پیاوړې او متوازنې لوبډلې له پاره د پخوانیو مجربو لوبغاړو تر څنګ، په لوبډله کې ځوانانو ته هم ځای ورکړ او په ټوله کې مو د هر لوبغاړي په مسئولیت او ټیم کې په ځانګړي ځای کې لوبېدلو باندې کار وکړ.

دې نړیوال جام ته چمتووالی مو دوه کاله پخوا پیل کړی و، د کور دننه مو ورته د چمتووالي په موخه تمریناتي کمپونه ونیول، د کورني کرکېټ لیسټ ای سیالیو کې مو زرغون جام یوه ورځنۍ سیالۍ اضافه کړې، همدارنګه مو د سریلانکا، بنګله دېش او پاکستان په شان، له سترو لوبډلو سره د یوې ورځنیو سیالیو لړۍ ونیولې، د نتیجې که یو لنډ مثال درته و وایم، له پاکستان سره په سریلانکا کې د سیریز اوله لوبه وګورئ چې زموږ لوبغاړي څنګه ولوبېدل؟ او په نړیوال جام کې بیا زموږ لوبغاړي د دوی چټک توپ اچوونکي څنګه ولوبول؟

د دې تر څنګ باید وویل سي چې د سینئر/مجربو لوبغاړو اتحاد او یووالي ته هم پاملرنه وسوله، د لوبې ګټل-بایلل به یو طرف کړو، خو تاسو به د سینئر لوبغاړو همږغي او همکاري لیدلې وي، خلکو به له لوبې خوند اخیستی، موږ به د دوی باډي لینګویج (Body Language) یا کړه-وړه کتل، الحمدلله د لوبغاړو ترمنځ مینه او یووالی تر هر وخت زیات و، په مجربو/سینئر لوبغاړو کې به هر یوه د لوبډلمشر په څېر مسئولیت پر غاړه وړی او ځوانان به یې هڅول. دا نړیوال جام یو پړاو و، له دې نړیوال جام مو څخه ډېر څه زده کړل، که لوبه مو ګټله او که بایلله، خپلو نیمګړتیاوو ته مو پام و. اوس د ولس هیلې تر پخوا هم زیاتې سوې، د اوږو بار او مسئولیت مو نور هم دروند سوی. ولس به دا نه مني چې یوازې کمزورې لوبډلې دې ماتوو، بلکې له موږ څخه یې تمې زیاتې سوې دي.

را روان کال مو نور هم د ازمایښتونو او سختو سیالیو ډک دئ، پیل یې د هند د سیریز څخه دئ، همدا راز د اېرلېنډ، سریلانکا، زمبابوې او بنګله دېش سره بشپړ سیریزونه، شل آوریز نړیوال جام، د استرالیا او نیوزیلېنډ سره سیریزونه، ټول په پلان کې سته. تر ټولو لوی د ویاړ خبر چې افغانستان په لومړي وار چیمپینز ټرافي (۲۰۲۵) ته رسېدلی، په چیمپینز ټرافي (Champions Trophy) کې د نړۍ ۸ غوره لوبډلې لوبېږي چې یو یې افغانستان هم دئ.

بیا هم وایم، موږ په بحراني حالاتو کې سفر کړی، نه مو سپانسر/مالي ملاتړ درلودی، نه مو د کور به توب له پاره کوم ځای (Venue) درلودی او نه مو په داخل کې د لوبغاړو د روزنې او درملنې له پاره کوم وسایل او اسانتیاوې درلودلې. اوس الحمدلله هرڅه لرو، د کابل الوخېلو په سیمه ۳مخ

د ذهني تمرکز نستوالي او په کار کې د زړه تنګۍ ستونزه

آسیه "انصر"

دوهمه برخه

روانشناسان یې په اړه څه وایي؟
ارواپوهه طاهره جاوید: په اې. ډي. ایچ. ډي باندې د لا ډېرې پوهېدنې له پاره مو له یوې ارواپوهې طاهره جاوید سره خبرې کړې. هغه وایي: د هېرجنتیا، د فکري تمرکز نستوالي او د ټیکاو نه درلودلو دا ستونزه یا اې. ډي. ایچ. ډي د مغزو په جوړښت کې د یو ځانګړي بدلون له کبله په کوچنیانو کې ډېر عام پېښېدونکی رواني کیفیت دئ، چې "نیورو ډیولپمینټل ایشو" یې بولي.

جاوید زیاتوي، "ځیني کوچنیان له زېږون سره په دې مشکل اخته وي. دا ډول کوچنیان ډېر زیات ګرځي او راګرځي یا متحرک وي، ډېر بې پروا وي او ځیني داسې کارونه هم ځني کېږي، چې تر شا خطر یې نه سي احساسولای."

ډاکټرې طاهره جاوید په اسانو ټکو پر اې. ډي. ایچ. ډي د پوهولو له پاره وویل: "د داسې کسانو ماغزه نور ډېر ښه وي، خو د اشارو یا سیګنالونو لېږدوونکی سیسټم یې مختلف او یو څه کمزوری وي. د همدې له کبله د مغزو د مزو ترمنځ پیغامونه په سمه توګه او پر وخت نه رسېږي او له امله یې په دې ستونزې د اخته کس کار او کړنې اغېزمنېږي."

جاوید زیاتوي: "له درې کلنۍ تر اووه کلنۍ په کوچنیانو کې د دغه مشکل نښې-نښانې ډېرې څرګندې ښکاري. په ځانګړي ډول کله چې تر دوی ګردچاپېر چاپېریال کې ځیني بدلونونه راسي، لکه:، کوچنی ښوونځي ته تګ پیل کړي، یا له نوي ماحول او خلکو سره آشنا سي، دوی پر شاوخوا د تمرکز کولو وس نه لري. تر ۱۲ کلنۍ مخکې دا ستونزه تشخیصېږي." "دوی چې هر څومره بوخت وي، هغومره آرام وي"

د رواني ناروغیو درملونکې روانشناسه جاوید ویلي، په دې ستونزې اخته کوچنیان په ډېرو عادي او کوچنیو-کوچنیو کارونو کې هم تېروتنې کوي، لکه: د داسې کوچني توجه او پام هر وخت تیت و پرک وي، پر یو شي یا کار تمرکز نه سي کولای، هماغه یوه تېروتنه بیا-بیا تکراروي، چې خبرې کوي، نو په وار-وار په منځ کې خبره پرې کوي یا یې نیمګړې پرېږدي او ډېرې زیاتې خبرې کوي، هر وخت هاخوا-دې خوا ترپکې وهي، ګرځي-راګرځي، په ټولګي کې هم پر یو ځای نه کښېني، که کښېني، نو بیا سره ښوري، نابېره په غوسه کېږي، که خپه وي، نو جنګ او وهل-ټکول کوي، پر بکړې پرته له سنجشه کوي او بیا بیرته ژر ځني بېزاره کېږي هم، پر ټاکلي وخت کار کول ورته سخت وي، که بل څوک یو کار په یو ساعت کې کوي، نو له دوی درې-څلور ساعتونه پر تېروي.

د ډاکټرې جاوید په قول: "لکه نن-سبا چې نور کوچنیان په ساعتونو-ساعتونو موبایل یا ټلوېزیون ته ناست وي، دوی دغومره نه سي کښېناستلی."

ډاکټره زیاتوي، چې: "د دغه رواني کیفیت له پاره درمل هم تر یو حده کار کوي، خو تر هغه ډېره ګټوره لاره تراپي یا رواني مشاوره ده، چې له روانشناس سره وسي."

د هغې په قول، هغه کوچنیان چې په دې ستونزې اخته وي، باید د خپل ژوند په طرز یا ډول کې ځیني بدلونونه راولي.

مېندو او پلرونو ته سپارښتنه کوي چې: "په هغوی ورزش وکړئ، په لوبو کې یې ښکېل کړئ او یا یې عادي او ورځني ژوند ته ځانګړی پام وکړئ، دا ډول کوچنیان چې هر څومره بوخت وساتل سي، هماغومره به آرام وي."

نور بیا...

شعري او آدب

د طلوع ځلانده ډیوه

غزل

محبت ورډګ

زه مې هره ورځ خپل بخت ته دا دعا کړم
خدای د وینې کړه جوړ سړی وم تا تباه کړم

***

د ژوند غم دئ چې زموږ پر اوږو بار دئ
د ځوانۍ له هر موسمه یې جدا کړم

***

در پر در یم مرسته ته را سره وکړه
خدایه نوره چې د ژوند لاره پیدا کړم

***

که اخلاص کړې نو لاس هم له ژونده مینځه
زه مې خپل اخلاص د خلکو د خندا کړم

***

تجربې دادي شاعر دي را څه جوړ کړ
زه "**محبت**" نه وم محبت دي په رښتیا کړم

غزل

کریم "سلطاني"

غم ته دي پرېښودم تیارو باندې دي وسپارلم
چا چې وژلی وم هغو باندې دي وسپارلم

***

ته چې راګرځې زه به توري خاوري سوی یمه
د بېلتانه په سرو لمبو باندې دي وسپارلم

***

اوس مې رنګونه د سپرلي رخسار کې مه لټوه
ته چې روان سوې په پښتو باندې دي وسپارلم

***

خود به رښا وي راته هره یوه لاره د ژوند
موري په دبرشو سپارو باندې دي وسپارلم

***

وخت چې د عشق و نو "**کریمه**!" زندګي دي ومه
چې ځای د ننګ راغی پردو باندې دي وسپارلم

غزل

هنر احمدزی

ډېر ومه ډېر بې واره ووتمه
تر بې خودۍ خماره ووتمه

***

درد سومه غلی زړه ته درغلمه
اوښکه سوم بې اختیاره ووتمه

***

ته چې د بل درګاه ته ننوتې
زه لکه ډال له تاره ووتمه

***

ځان ته ژوندی له محبته ستون سوم
حد دي ژوندی له داره ووتمه

***

هی هی توبه، څومره ناهیلي سترګي
ستا د ښایست له ښاره ووتمه

***

ستا د نظر له بامه پرېوتمه
د ژوند له هره کاره ووتمه

***

دومره وم لړ چې شمېر مې نه غوښتلو
دومره سوم ډېر له شماره ووتمه

***

"**هنره**!" زه خو ستا په زړه کې وم خو
چې تر دې په کومه لاره ووتمه؟

Tolo E Afghan Journal

طلوع افغان مدیریت لـه ټـاکلي ليکنيـز معيـار سره سم، د ليکنـو پـه اصلاح کـي د لاسوهني حق لـري.

ګرانو لوستونکو! ستاسو څخه په ډېر احترام هيلـه کېږي، چي دا سپېڅلي پاڼي بې ځايـه و نـه غورځـوئ!

مســــئول مــدير: بريـالـــی "فيضي"
د تصـحيح مسئـــول: بسم الله "غـرني"
کمــپوز او ډيـــزاين: نصير احمد "صابر"
د مـــديريت شمېره: ۰۷۰۵۶۰۸۶۷۳
د توزيع مديريت شمېره: ۰۷۰۰۴۹۱۴۳۶
پته: علامه حبيبي واټ – اطلاعات او فرهنګ رياست
د برېښناليک پته: Afghan.tolo@yahoo.com

Founded in 1921 | Issue: 60 | Established in 1300 Hijri

افغان اعلانونه

د رسول الله (ص) د پاليسيو دقت

نعمت الله "شاکر"

د رسول اکرم (ص) حکيميت او د تعاملاتي پاليسيو دقت ته هم عاقل انسان حيرانېږي.
د عبد الله بن ابي بن سلول غوندي ستر منافق او د هغه له ډلي سره يې داسي سلوک کاوه، لکه د خپلو نازولو صحابه وو سره چي يې کوم سلوک کاوه.
د صحابه وو له خوا د هغه منافق په تخريبونو خبرېدی، حتی د هغه د تخريب اړوند د بنو المصطلق غزا په دوران کي د زيد بن ارقم او نورو صحابه وو رضي الله عنهم د اطلاع او خبر په تائيد کي آيتونه نازل سول، چي هغه تخريب او حتی توهين کړی دئ، صحابه وو د هغه د وژلو او غبرګون وړانديز وکړ، خو رسول الله (ص) نه خپله غبرګون وښاوه او نه يې بل چا ته د غبرګون اجازه ورکړه.
د رسول الله (ص) له سيرت څخه د هغه د تعاملاتي بصيرت او پاليسۍ يوه بېلګه.

(۱) مخ پاته: د ګډو-وډو کارونو سمونکی او زړونو...

باور مي و نه کړ، له سلو نمرو څخه مي ۸۳ اخيستې وي! په هغه اندازه چي ما هغه سړي ته ورکړي وې.
هو! ډېری داسي شيان شتون لري چي که موږ هر څومره وغواړو د هغه له شتون څخه انکار وکړو، په ډېر واضح او څرګند ډول ښکاره کېږي او چي هر وخت و نه غواړو، هغه واورو، په لوړ آواز چيغه کوي: اې زما ملګريه، هغه الله (ج) دی!
کله چي الله (ج) له هغه څخه د هغه عمره کوونکي کس د ماتو ټېونو رغولو له پاره ګټه واخيستله، په حقيقت کي هغه کس له الله (ج) څخه منننه کړې وه.

(۳) مخ پاته: پر ځوانانو د باور مثبته پايله او د نوو...

کي ۸۶ جريبه مځکه لرو، هلته مو پر نړۍ وال ميعار برابر د کرکيټ ميدان له پاره پر يوه نقشه کار پيل کړی، ممکن پسرلي ته کار پر پيل کړو، مشکلات مو هم تر ډېره حده حل سوي، خو لږ ستونزي به وي، هغه به هم حل سي، لکه: بانکي او سفري؛ نو له ولس مو هيله داده چي موږ ته لږ نور هم وخت راکړي، پوهېږم د لويو لوبډلو سره زموږ د لوبو پايله هغسي نه وي، لکه: د کمزورو لوبډلو سره چي وي، ځکه چي لوبډله مو لا هم له انتقالي پروسې څخه تېرېږي، د بريا پر وخت لکه څنګه چي د لوبغاړو ترڅنګ درېږئ، همداسي د ناکامۍ پر وخت هم د دوی ملاتړ کوئ.
زموږ به همدا هڅه وي چي راتلونکی کال مو هم لکه د سږ کال د لاسته راوړنو ډک وي او باور لرم که تاسو همداسي زموږ ملاتړ وکړئ، د لا ډېرو برياوو او خوښيو شاهدان به اوسئ! ان شاءالله

(۱) مخ پاته: کندهار والي د افغان کډوالو له پاره د چارو ښه منظمولو...

اساس موږ پرېکړه کړې، تر څو د سپين بولدک او د کندهار ښار د پنځمي ناحيې د ټولو کمپونو کډوال دغه کمپ ته انتقال کړو، ځکه په ياد کمپ کي به کډوالو ته د خوراک او څښاک خدمات په چټکۍ سره رسېږي، امنيت به يې خوندي وي او هم به کډوال د ترانسپورټ، روغتيا، اوبو، برېښنا او نورو خدماتو څخه برخمن وي.
د ترانسپورټ رئيس مولوي عبدالغني احسان د کډوالو د لېږد په اړه وويل: د دوی له لوري له تېرو ۱۲ ورځو راپه دې خوا په ۱۰۲۱ موټرونو کي ۱۰۱۸۱ کورنۍ او کډي چي شمېر يې تر څلوېښتو زرو کسانو اوړي، کندهار او نورو ولايتونو ته انتقال کړي دي.
د کندهار والي وويل: دا پر موږ او تاسو د امتحان يوه دوره ده، الله (ج) به يې تېره کړي او الحمد لله دا چي په زرونه افغان کډوال هره ورځ د سپين بولدک له لاري راستنېږي، نو ښه مېلمه پالنه يې سوې او همدا ستاسو په مټ ښه خدمات په هره برخه کي ورته رسېدلې، چي ستاسو ټولو هڅې د ستاينې وړ دي او ځانګړې مننه درڅخه کوو. دا زموږ له پاره نېکمرغي ده، چي الله (ج) د دې مظلومانو د خدمت له پاره وقف کړي يو، موږ او تاسو ته حتمًا د دې بدله راکوي، دا زموږ خپل افغانان دي او زموږ د هيواد خلک دي، ښه دئ چي راسي، تر څو دلته د آزادۍ څخه خوند واخلي او د يو سوچه اسلامي او شرعي نظام تر چتر لاندي خپل ژوند ته دوام ورکړي.
هغه کمېټې ته د خوراک او څښاک، د کډوالو د ثبت، ترانسپورټي وسايلو کي د کډوالو د لېږد، روغتيا او نورو برخو کي له اړوند مسئولينو څخه راپورونه واورېدل او هم يې په يوشمېر برخو کي د کمېټې غړو ته سپارښتني وکړې او دغه راز يې ورڅخه وغوښتل، تر څو د انځرګي په کمپ کي ټولي اسانتياوي ژر تر ژره برابري کړي، چي تر برابرېدو وروسته به ورته د يوې پروسې له مخي دغه لنډمهاله کمپ ته د ټولو کمپونو څخه کډوال را انتقال کړو.

(۱) مخ پاته: له ليکوالانو او ځوانانو سره د همږغۍ...

لومړی د اطلاعات او فرهنګ رئيس وويل: موږ، ليکوالان او ځوانان د دې نظام عسکر يو، د نظام د پرمختګ له پاره کار کوو، نو هغه څه چي خپروو، مخکي له مخکي يې بايد د صحي او غلط په اړه له مشرانو څخه مشورې واخلو، که مو ټوله مبارزه په مشوره مخته روانه وي، نو ان شاء الله ګټه به يې ډېره وي او هم به يې پايلي مثبتي وي.
ملا شمس الله صميم د افغانستان اسلامي امارت پر پاليسۍ خبري وکړې او و يې ويل: موږ بايد د افغانستان اسلامي امارت له پاليسۍ سره بلد و اوسو او الحمد لله زموږ د نظام پاليسي خورا درنه پاليسي ده، هغه دا چي بايد سنګين وړغېږو او سنګين ليکل وکړو، په اخلاقو وړغېږو او په اخلاقو ليکل وکړو، په ليکنو کي بد الفاظ و نه کاروو او په ليکنو کي له احساساتو کار وا نه خلو، نو بايد همدغه پاليسي وپالو، ځکه زموږ او ستاسو يو هدف دئ، هغه دا چي د دې سپېڅلي نظام څخه دفاع ده، د اسلامي امارت دفاع په اصل کي د اسلام دفاع ده، ليکوالانو او ځوانانو ته يې په خطاب کي وويل: تاسو بختور خلک ياست چي د يوه سپېڅلي نظام د دفاع له پاره مبارزه کوئ.
د کندهار د والي مرستيالومړی ډېره خوښي وښووله، چي له داسي ځوانانو سره په مجلس کي ګډون کوي، چي هغه د اسلامي نظام د ساتني او پرمختګ له پاره مبارزه کوو او زياته يې کړه، کفري نړۍ تل هڅه کړې ده، چي د نظامي جګړې ترڅنګ؛ فکري جګړه مخته يوسي او اوس يې هم مخته وړي، نو په دې برخه کي ستاسو مبارزه د ستايلو وړ ده، چي په نه امکاناتو مو د دوی د ناوړه دسيسو مخه نيولې او لا يې هم نيسئ او دا اسلامي نظام خورا په لوړه بيه او ډېرو قربانيو راغلی دي، نو د دې اسلامي نظام ساتنه زموږ او ستاسو ګډ مسئوليت دئ او هغه ټول اسباب بايد په کار واچوو، چي د دې سپېڅلي نظام د ساتني او ټينګښت سبب ګرځي. ليکوالانو او ځوانانو ته يې په خطاب کي وويل: تاسو د اسلام او اسلامي نظام څخه دفاع کوئ، ستاسو همدا مبارزه يو عبادت دئ، چي الله (ج) به يې تاسو ته حتماً ثوابونه درکړي، ليکوالانو او ځوانانو ته يې د لا زيات اخلاص او صحيح نيت اړوند مهمي سپارښتني وکړې.
د کندهار د والي مرستيال په وروستيو کي د ليکوالانو او ځوانانو څخه غوښتنه وکړه، ترڅو لومړی بايد اسلامي امارت بشپړ وپېژني او د پاليسۍ مطابق مخ ته ولاړ سي، شپه او ورځ خدمت وکړي، اسبابو او امکاناتو ته و نه ګوري، بلکي له معنوي اړخه کوښښونه وکړي او له پوره زغم څخه بايد کار واخلي.
د غونډې په وروستيو کي د ليکوالانو په نمايندګۍ سيف خيبر او مولوي رحيم الله محمود هم خبري وکړې او له مسئولينو سره يې خپلي غوښتني، ستونزي او وړانديزونه شريک کړل، چي د مسئولينو له لوري ورسره په هره برخه کي د پوره– پوره همکارۍ ډاډ ورکړل سو.

(۱) مخ پاته: د دوو مهمو سړکونو د وصلولو چاري پيل...

به په مسلکي او ۱۲۰۰ کسان به په غير مسلکي ډول کار په کښي کوي.
د يادو دوو سړکونو وصلول به د تګ–را تګ او د ګټې–ګوټې په راکمولو کي ډېره اسانتياوي رامنځته کړي.

(۱) مخ پاته: څلورو روغتيايي مرکزونو ته ودانۍ...

حل سي.
په همدې حال کي د افغان روغتيايي او پرمختيايي مؤسسې ولايتي مسئول ډاکټر ذبيح الله فيضي ويلي، د يادو روغتيايي مرکزونو چي درې سره يې بشپړ او يو فرعي روغتيايي مرکز دئ، ودانۍ يې د ۱۲۷ زره امريکايي ډالرو په لګښت، د افغان روغتيايي او پرمختيايي مؤسسې له لوري جوړي سوي، چي ګټې اخيستني ته وسپارل سوې.
د هغه په قول، ټول روغتيايي مرکزونه د کانټينرونو په وسيله د يادو ولسواليو په سپينو ساحو کي جوړ سوي، چي مجهز اطاقونه، د اوبو او لمريزي برېښنا په اسانتياوو سمبال دي.
د دغو سيمو اوسېدونکو هم د يادو روغتيايي مرکزونو په جوړېدو خوښي وښووله او له همکارو مؤسسو او د عامې روغتيا رياست څخه يې وغوښتل چي روغتيايي مرکزونه ورته نور هم زيات کړي.

(۱) مخ پاته: په کانګرېټي ډول د يو سړک جوړولو چاري...

ودانيز شرکت سره لاسليک کړی او په عملي توګه دغه شرکت د بوغابي کوتل په جوړولو بوخت دئ.
د بغلان اوسېدونکي او د کابل – بغلان د لويي لاري موټر چلوونکي د ټولګټو وزارت د دې اقدام هرکلی کوي او غوښتنه يې داده چي د کابل –شمال پر غځېدلې لار دې د سړکونو ټولي ويجاړې سوي برخي د بوغابي کوتل په څېر جوړې سي.

(۱) مخ پاته: د يو سربند او يو کانال جوړولو کار پيل...

ورته مهال د يادي ولسوالۍ کروندګر د کرهني وزارت له دې اقدام څخه خوښ ښيي او د کرهني او مالدارۍ په برخه کي د لا زياتو همکاريو غوښتونکي سول.
هېره دي نه وي، چي د دې پروژې د پيل په مراسمو کي د کرهني رياست يو شمېر مسئولينو او د دې ولسوالۍ سيمه ييزو مسئولينو برخه اخيستې وه.